مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۲/۱۳

# بدلون

لګیری دی بادونه پروا نشته تیر به شی
رژیری دی ګلونه پروا نشته تیر به شی

ماهیان دی په اوبو کی څوک ارام ته نه پریدی
خوریږی دی جالونه پروا نشته تیر به شی

د ورکی تمنا د پاره شوی ډیری لوبـــــی
ماتیری دی روغ زړونه پروا نشته تیر به شی

جانانه په سپین مخ دی د ګردو شیبی دی لنډی
وریږی دی قهـرونه پروا نشـــته تیر به شی

حالات راته نظر کی نن راغلی دی څه نور
لنـــدیږی تنـابونه پروا نشـــته تیـر به شـی

غونچــې به را بهر شی راروان دی پسرلی
غوریږی اسـمانونه پروا نشته تیر به شی

شی بیا به کلیواله! په نفرت مینه بر لاســی
تیریږی دا وختــونه پروا نشــته تیـر به شــی

جون/۲۲/۲۰۱۸
تورنتو ـ کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ